# د حضرت جنید بغدادي (رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ)

# فیضان

16-February-2023



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

د 16 فروري كال 2023ء د پاكستان په هفته واره اجتماع كښې كیدونكے بیان

# د حضرت جنید بغدادي فيضان

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِیَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

صحابئ رسول حضرت ابو طلحه انصاري رضی اللہ عنہ فرمائي: د يو ځل واقعه ده چې د سحر په وخت د الله پاك آخري نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د نُور نه ډَک مخ باندې د خوشحالئ آثار وو، صحابۂ كرامو علیھم الرّضوان د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: الله پاک پيغام راليږلے دے: اے محبوبه صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم! ستا چې كوم اُمَّتي په تاسو باندې يو ځل درود اولولي، زه به د هغه د پاره 10 نيكئ ليكم، د هغه 10 ګناهونه به ختموم، 10 درجے به ورله اوچتووم او هم دومره رحمت به پرې ليږم.[1]

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے[2]

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم چا ته چې د بے

323

[1] ... مُسْنَدِ اَحْمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

وسو ملاتړ وئيلے شي، څوک چې د هر بے خبره خبر لرونکے دے، په هغوئي دې درود او سلام وي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيّات د اعمالو دار او مدار په نيتونو باندې دے.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! ښه نيت بنده جنّت ته رَسَوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ✿ د الله پاک د رضا د پاره به بيان اورم ✿ عِلمِ دِين به زده کووم ✿ ټول بيان به اورم ✿ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ✿ نصيحت به حاصلووم ✿ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## کافِر کلمه اووئيله او مسلمان شو

د يمن اوسيدونکے يو کافِر وو، هغه د چرته نه د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم دا حديثِ پاک واوريدو چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّه يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللّٰه يعني د مسلمان د



[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 ۔

فِراست نه اویرېږئ چې بے شکه هغه د اللہ پاک په نُور سره لیدل کوي.[1]

د هغه کافِر شوق شو چې د دې خبرې ازمېښت اوکړي، هم دغسې هغه اسلامي جامے واغوستلې، پټکے ئې په سر کړو او پوره د مسلمانانو حُلیه خپله کړه او د مختلفو مَشَائِخ کرامو (یعني د لوئے لوئے عالِمَانو او اولیائے کرامو) په خِدمت کښې ئې حاضري شروع کړه، د چا په خدمت کښې چې به هم حاضریدلو، د هغوئي نه به ئې د دې حدیث شریف د مطلب پوښتنه کوله چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د مُؤمِن د فِراست نه ځان ساتئ چې هغه د اللہ پاک په نُور سره کتل کوي، د دې حدیث شریف څه مطلب دے؟ هغه عالِم صاحب یا ولِـیُّ اللہ به د حدیث شریف معنیٰ وئیله. د داسې کولو سره یوه ورځ دا کافِر د سَیِّدُ الطَّائفه (یعني د اولیاؤ سردار) حضرت جنید بغدادي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خِدمت کښې حاضر شو، خلق راغونډ شوي وو، حضرت جنید بغدادي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ بیان فرمائیلو، هغه هم د بیان په وخت پوښتنه اوکړه: عالي جاه! رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّه يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللّٰه** (د مُؤمِن د فِراست نه ځان ساتئ چې هغه د اللہ پاک په نُور سره کتل کوي) د دې حدیثِ پاک څه مطلب دے؟

حضرت جنید بغدادي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خپل مُؤمِنَانه فِراست سره اوپیژندلو او اوئې فرمائیل: **د دې حدیث دا مطلب دے چې تهٔ کُفر پرېږده او اسلام قبول کړه.** بَس دومره اوریدل وو چې هغه بے قراره شو او فوراً ئې کلمه اووئیله او



[1]... ترمذی، کتاب التفسیر القرآن، باب و من سورۃ الحجر، صفحه:723، حدیث:3127۔

www.dawateislami.net

مسلمان شو.[1]

عارِف باللّٰه (یعنې د اللّٰه پاک پیژندونکے د اوچتې مرتبے کامِل ولي)، مشهور عاشقِ رسول حضرت عبد الرحمٰن جامي رحمۃُ اللّٰہِ علیہ فرمائي: په دې واقعه کښې د حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللّٰہِ علیہ 2 کرامتونه دي: **(1)** یو خو دا چې هغه ګس کافِر وو خو په اسلامي حُلیه کښې راغلے وو خو هغوئي رحمۃُ اللّٰہِ علیہ د فِراست په نُور سره اوپیژندلو چې دا مسلمان نه دے بلکه کافِر دے. **(2)** بَل کرامت دا چې هغوئي د خپل وِلایت په نظر پوهه شو چې د دې کافِر د اِسلام قبلولو هم دا وخت دے.[2]

په بعضې روایتونو کښې دي: هغه نوي مسلمان شوي د اسلام قبلولو نه پس د حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللّٰہِ علیہ په خِدمت کښې عرض اوکړو: زه د دومره مشائخو خوا ته لاړم خو چا هم اونه پیژندم چې زه د مسلمان په جامه کښې کافِر یم، تاسو اوپیژندم. حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللّٰہِ علیہ اوفرمائیل: **هغه ټولو هم تهٔ پیژندلے وے خو ټولو ته معلومه وه چې ستا ایمان راوړل زما په لاس لیکلي دي.**[3]

نګاهِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی | بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

## د حدیثِ پاک شرح

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللّٰہِ علیہ کرامت والا حکایت کښې یو حدیثِ پاک بیان شو، چې د صحابي ابنِ صحابي حضرت



[1]... تذکرۃ الاولیاء، نیمۂ دوم، ذکر جنید بغدادی، صفحه:10۔

[2]... نَفَحَاتُ الْاُنس، ابو القاسم الجنید البغدادی، صفحه:260۔

[3]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:156 خلاصةً۔

عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہ نه روایت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائیل: **اِتَّقُوْا فِرَاسَةُ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّه يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللّٰه** یعنې د مؤمن د فِراست نه اویریږئ چې بے شکه هغه د الله پاک په نُور سره کتل کوي.[1]

د دې حدیثِ پاک په شرح کښې علّامه عبد الرؤوف مَنَاوِي رحمۃُ اللہِ علیہ چې کوم مدني گُل ورکړے دے، د هغې خلاصه دا ده چې په دې حدیثِ پاک کښې اووئیلے شو چې کامِل ایمان والا مؤمِن (مثلاً ولِـيُّ الله) د الله پاک په نُور سره کتل کوي، د دې مطلب دا دے چې هغه د زړه په سترګو ګوري کوم چې د الله پاک په عطا شوي نُور روښانه وي، د دې نُور په ذریعه زړه روښانه شي او د آئینے په شان شي، بیا چې د هغه مخې ته څه راځي، داسې واضحه وي، لکه څنګه چې د آئینے مخے ته هر څه صفا په نظر راځي.[2]

بیا په دې حدیث شریف کښې د داسې کامِل ایمان والا مُؤمِن د فِراست نه د بچ کیدلو حکم شوے دے، د دې مطلب دا دے چې د کامِلُ الاِیمان مُؤمِن (مثلاً) د اولیائے کرامو په مخکښې د ګناهونو نه نه ځان ساتئ، د هغوئي په وړاندې زړه قابو ساتئ! د باطِني ګناهونو (مثلاً حسد، بدګمانئ وغیره) نه هم ځان بچ ساتئ او د ظاهري ګناهونو نه هم ځان بچ ساتئ ګنې دا کامِل ایمان والا به د خپل ایمان د نُور په ذریعه ستاسو د ګناهونو نه خبر شي او کیدے شي چې تاسو د هغوئي په مخکښې اوشرمیږئ.[3]



[1]… ترمذی، کتاب التفسیر القرآن، باب و من سورة الحجر، صفحه:723، حدیث:3127۔

[2]… فیض القدیر، جلد:1، صفحه:186، تحت الحدیث:151۔

[3]… فیض القدیر، جلد:1، صفحه:185، تحت الحدیث:151۔

www.dawateislami.net

## مؤمنانه فِراست به څنګه ميلاويږي...؟

علّامه عبد الرؤوف مَنَاوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: بنده چې څنګه عمل كوي، جزا ورته هم هغه شان ميلاويږي، څكه د دې مؤمِنانه فِراست د كومې چې په حديثِ پاک كښې ذِكر اوشو، څوک چې دا فِراست حاصلول غواړي، هغه له پكار دي چې ❁ خپل نظر ښكته اوساتي ❁ د بد نظرئ (مثلاً غير محرمو ته د كتلو، فلمونو وغيره كتلو) نه ځان بچ اوساتي ❁ ځان د نفساني خواهشاتو نه بچ كړي ❁ په زړه كښې هميشه دا خيال كښينوي چې **الله پاک مې ويني** ❁ او صِرف او صِرف حلال خوري، د حرامو نه هر وخت ځان ساتي، د دې نيک اَعمَالو په بركت باندې به د هغه زړه روښانه شي او كه چرې الله پاک اوغوښتل نو د هغه به هم مؤمنانه فِراست نصيب شي.[1]

آقا کی حیا سے جُھکی رہتی نظر اکثر
آنکھوں پہ مرے بھائی لگا قفلِ مدینہ
گر دیکھے گا فلمیں تو قیامت میں پھنسے گا
آنکھوں پہ مِرے بھائی لگا قفلِ مدینہ
آنکھوں میں سر حَشر نہ بھر جائے کہیں آگ
آنکھوں پہ مِرے بھائی لگا قفلِ مدینہ
بولوں نہ فُضول اور رہیں نیچی نگاہیں
آنکھوں کا زباں کا دے خدا قفلِ مدینہ[2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مختصر تَعَارُف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه عطّاريه 11 بزرګ دے. د هغوئي نوم مبارک



[1]... فيض القدير، جلد:1، صفحه:186، تحت الحديث:151۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:94 95۔

جنيد، كنيت: ابو القاسِم او سيدُ الطّائفه، لِسَانُ القَوم، طاؤسُ العُلَماء ئې مشهور اَلقابات دي. حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تقريبا په 218 هجرئ كښې په بغداد شريف كښې دُنيا ته تشريف راوړو.[1] حضرت ابو عبّاس عطّار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: إِمَامُنَا فِي هٰذَا الْعِلْمِ وَ مَرْجِعُنَا الْمُقْتَدىٰ بِهِ الْجُنَيْد يعنې د تَصوُّف په عِلم كښې زمونږه امام او پيشوا حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے.[2] حضرت ابو جعفر حَدّاد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: كه چرې عقل سړے وے نو د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شكل باندې به وے.[3] د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وصال شريف په 27 رَجَبُ المُرَجَّب 297ھ يا 298ھ اوشو. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار هم په بغداد شريف كښې په شونيزيه علاقه كښې دے.[4] د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## هره ورځ به ئې 400 نفلونه كول

حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مشهور كامِل ولي حضرت سِرّي سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوريے هم دے او كامِل مُريد ئې هم دے.[5] هغوئي ته په وړوكوالي كښې د خپل ماما جان حضرت سِرّي سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بابركته



[1]... تذكرة الاولياء، ذكر جنيد بغدادى، نيمهٔ دوم، صفحه:6۔
[2]... نَفَحَاتُ الْاُنس، ابو القاسم الجنيد البغدادى، صفحه:257۔
[3]... نَفَحَاتُ الْاُنس، ابو القاسم الجنيد البغدادى، صفحه:258۔
[4]... شرح شجره قادريه رضويه عطاريه، صفحه:74۔
[5]... كَشْفُ الْمَحْجُوب، صفحه:193۔

www.dawateislami.net

صحبت نصیب شوے وو، د کوم په برکت چې هغوئي د شروع نه نیک پرهیزګاره، عبادت ګزاره وو. د حضرت جنید بغدادي رَحمَةُاللهِ عَلَيه والد صاحب حضرت محمد بن جنید رَحمَةُ اللهِ عَلَيه به د شیشې تجارت کولو، په شروع کښې به حضرت جنید بغدادي رَحمَةُاللهِ عَلَيه هم دغه کار کولو.

په هغه ورځو کښې د هغوئي دا معمول وو چې سحر به ئې کله خپل دکان ته تشریف یوړلو نو پرده به ئې راښکته کړله او 400 رکعته نفل به ئې ادا کول.[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! خومره ښکلے انداز دے، د الله پاک نیک بندګان ډیر د کمال نه ډک وي، د هغوئي هره ادا ډیره ښکلې وي، تجارت، کار، نوکري وغیره کول دا زمونږه ضرورتونه دي خو افسوس! مونږه په دې ضرورتونو کښې پریوځو او د ژوند اصل مقصد هیر کړو، زمونږ د ژوند اصلي مقصد څه دے؟ د الله پاک عبادت کول، رَبِّ کائنات کوم چې مونږه پیدا کړي یو، د خاورې نه ئې ژوندے انسان جوړ کړو، هغه قادِر او قَیّوم رَبّ پخپله فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾<br>(پارہ:27، سورۃالذٰریٰت:56) | مفهوم ترجَمهٔ کَنزُ العرفان: او ما پیریان او انسانان دې د پاره پیدا کړل چې زما عبادت اوکړي. |

خوراک، څښاک، اغوستل، مال و دولت وغیره دا ټول زمونږه د ژوند ضرورتونه دي، عِبَادت د ژوند اصلي مقصد دے، اوس چې مونږه د لږ ساعت



[1] ... شرح شجرۂ قادریه رضویه عطاریه، صفحه:73 بتغیر قلیل.

www.dawateislami.net

د پاره غور اوکړو: مونږه د ژوند ضرورتونو له څومره وخت ورکوؤ او د ژوند مقصد یعنې د عبادت د پاره څومره وخت ورکوؤ؟ د خپلو 24 ګهنټو هم کله جاج واخلو. کیدے شي چې زمونږه د ژوند زیاته حِصَّه په ضرورتونو پسې په منډو وهلو تیریږي، آه! د دُکانداریٔ، نوکریٔ او کاروبار په چکر کښې لمُونځونه خو قضا کولے شي خو د ژوند مقصد (مثلاً د لمُونځ) د پاره د کاروبار قرباني هم څوک کمه ورکوي. آه! زمونږه تجارت، کاروبار، نوکري وغیره مونږه د الله پاک د ذِکر، د هغه د یاد او عبادت نه غافِله کوي، کاش! چې داسې نه کیږي...!! الله پاک په قرآنِ کریم کښې مونږ ته حکم کوي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَ لَاۤ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَ مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹﴾ (پاره:28، سورۂ منافقون:9) | **مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الایمان:** اے ایمان والؤ ستاسو مال نه ستاسو اولاد هیڅ څیز دې تاسو د الله د ذِکر نه غافِله نکړي او څوک چې داسې اوکړي هغه خلق په نقصان کښې دي. |

په تفسیرِ صراط الجنان کښې د دې آیت لاندې دي: (یعنې) اے ایمان والؤ! د منافقانو په شان ستاسو مال او ستاسو اولاد دې تاسو د الله پاک د ذِکر نه غافله نکړي او څوک چې داسې اوکړي چې په دُنیا کښې مشغول شي او دین هیر کړي، د مال په مینه کښې د خپل حال پرواه اونکړي او د اولاد د خوشحالیٔ د پاره د آخِرت د راحت نه غافِله اوسي نو هم داسې خلق په نقصان کښې دي.[1]



[1]... تفسیر صراط الجنان، پاره:28، سورۂ منافقون، زیرِ آیت:9، جلد:10، صفحه:171۔

www.dawateislami.net

**الله اکبر!** څومره د عبرت خبره ده! ❀ نن صبا خلق لکونه [روپيۍ] ګټي، بيا هم نه **پوره کيږي** ❀ په کورونو کښې جنګ جګړې ❀ زړونه ناقلاره دي ❀ چرته پريشانۍ ❀ کله آفتونه، په معاشره کښې يو عجيبه شان بے قراري په نظر راځي، د دې آخِر وجه څه ده؟ په رزق کښې آخر برکت ولې پاتې نه شو؟ چې د يو غم نه اوځو نو بَل راته مخامخ ولاړ وي، آخِر وجه څه ده؟ د الله پاک، پاک کلام، قرآنِ کريم صفا صفا وائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنۡ يَّفۡعَلۡ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۹﴾ (پاره:28، سورۂ منافقون:9) | **مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الايمان:** او څوک چې داسې اوکړي هغه خلق په نقصان کښې دي. |

څوک چې د مال په محبت کښې راشي، د کاروبار په وجه، د نوکرۍ په وجه د الله پاک د ياد نه غافِله شي، هغه نقصان والا دے، دا اَصلي وجه ده ❀ سحر په وخت د پاڅيدو سره خو کار له ځان رسوي خو د سحر د لمُونځ د پاره ئې سترګې نه غړيږي ❀ د ګاهک په لالچ کښې جَمعه قضا کيږي ❀ لمُونځونه قضا کيږي ❀ د مال په حِرص کښې ګډ وَډے [يعني ملاوَټ] کيږي ❀ په ناپ تول کښې کمے کيږي، يوه ورځ مره کيدل دي، هر څه دلته پريښودل دي او قبر ته کوزيدل دي، د قيامت په ورځ پاڅيدل دي، د الله پاک په بارګاه کښې وړاندې کيدل دي او حِساب ورکول دي، دا هر څه راته هېڅ ياديږي نه، بَس غفلت! لالچ، د مال مينه، په لږ وخت کښې د مالداره کيدو خواهش دے او مونږه په دې خواهش کښې ژوند تيروؤ،

صبح ہوتی ہے، شام ہوتی ہے
عمر یونہی تمام ہوتی ہے[1]

دا اَصل وجه ده، څکه په رزق کښې برکت نه وي، پریشانئ، آفتونه، مصیبتونه مو نه پرېږدي، کاش! چې زمونږه د ولیٔ کامِل حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللہِ علیہ برکت نصیب شي! هغوئي به دُکان ته تللو، دُکان به ئي بیرته کولو او پرده به ئې راښکته کوله او 400 رکعته نوافل به ئې ادا کول، څه! مونږه د 400 نوافل ادا کولو همت نه لرو، دکان ته لاړ شو او 2 رکعته نفل اداکړو، په لاس کښې تسبیح اوساتو، چې په دُکان کښې ناست یو، نوکري کوو، د کار روزګار کولو په وخت چې کله موقع میلاویږي ذِکرُ الله کوو، درود شریف لولو، که چرې داسې اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د مال او دولت د حِرص نه به هم بچ شو، دُنیا به مو هم ښه شي، په رزق کښې به برکت هم وي او که چرې الله پاک اوغواړي نو آخِرت به مو هم ښه شي.

محبت میں اپنی گُما یا الٰہی!
نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی!
رہوں مست و بے خود میں تیری وِلا میں
پِلا جام ایسا پِلا یا الٰہی!
میں بے کار باتوں سے بچ کے ہمیشہ
کروں تیری حمد و ثنا یا الٰہی![2]

## 40 کاله ئې د زړه ساتَنه کوله

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللہِ علیہ د شیشې کاروبار کولو، چې دکان ته به لاړلو نو 400 رکعته نوافل به ئې ادا کول، تر ډیرې مودې پورې د هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ دغه معمول وو، بیا هغوئي دُکان



[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:495۔
[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:105۔

پرېښودو او د خپل کامِل پیر حضرت سِرّي سقطي رحمۃ اللہ علیہ په بارګاه کښې حاضِر شو، هغوئي یوه کوټه د خپل مستقل د اوسیدو ځائے جوړ کړو او د زړه ساتنه ئي شروع کړه، د مراقبے په حالت کښې به د هغوئي حالت داسې وو چې لاندې غوړیدلې مُصَله به ئې هم لرې کړه د پاره د دې چې د هغوئي رحمۃ اللہ علیہ په زړه کښې د الله او د رسول نه علاوه د هیڅ خیال هم رانشي. په دې خلوت او تنهائي کښې هغوئي 40 کاله تیر کړل، د 30 کالو پورې د هغوئي معمول وو چې د ماسخُتن د لمُونځ نه پس به اودریدلو او تر سحره پورې به ئې **الله، الله** وئیل او هم په دغه اودس به ئې د سحر لمُونځ ادا کولو. هغوئي رحمۃ اللہ علیہ پخپله فرمائي: **تر 20 کالو پورې تکبیرِ اُولیٰ زما نه چرې قضا نه شو** او په لمُونځ کښې که به چرې د دُنیا خیال راغے نو ما به هغه لمُونځ بیا ادا کولو.[1]

| | |
|---|---|
| میں پانچوں نَمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! |
| میں پڑھتا رہوں سُنّتیں، وقت ہی پر | ہوں سارے نوافِل ادا یاالٰہی![2] |

اے عاشقانِ رَسُول! تاسو واوریدل! حضرت جنید بغدادي رحمۃ اللہ علیہ به په پابندئ سره د تکبیرِ اُولیٰ سره لمُونځ ادا کولو، د جَمعې سره د لمُونځ وړومبے تکبیر کله چې **الله اکبَر** اووئیلے شي او لاس په نامه کیښودے شي، دې ته **تکبیرِ اُولیٰ** وئیلے شي. کاش! چې مونږه هم د تکبیرِ اُولیٰ سره د جَمعې د لمُونځ کولو عادت خپل کړو. عاشقِ اَولیاءَ، شیخِ طریقت، امیرِ



[1] ... تذکرۃ الاولیاء، ذکر جنید بغدادی، نیمۂ دوم، صفحہ:7۔

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د فتنو نه په ډک دور کښې د نیک جوړیدو چې کومه آسانه نُسخه ورکړې ده یعني **72 نیک اَعمَال**، په دې کښې په نیک عمل 2 نمبر کښې دي: آیا نن تاسو 5 واړه لمُونځونه د جَمعې سره ادا کړي دي؟ (کاش! چې په وړومبي صف کښې تکبیرِ اُولیٰ چرې هم قضا نه شي.)

## د تکبیرِ اُولیٰ موندلو فضیلتونه

**(1)** د حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې نبیءِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: څوک چې د الله پاک د رضا د پاره 40 ورځې د تکبیرِ اُولیٰ سره د جَمعې لمُونځ اوکړي د هغه د پاره به 2 آزادئ لیکلے شي یو د دوزخ نه بَل د نفاق نه.[1] **(2)** د حضرت ابنِ عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې سرکارِ عالي وقار، د مدینې تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د سَړي د امام سره د تکبیرِ اُولیٰ سره لمُونځ کول د یو زر 1000 اوښانو د الله پاک په لار کښې د صدقه کولو نه بهتر دے.[2]

میں پانچوں نَمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی![3]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نفلي روژې به ئې نیولې

په تذکِرةُ الاَولیا کښې دي: حضرت جنید بغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ صائِمُ

323

[1]... ترمذی، ابواب الصلاۃ، باب ما جاء فی فضل التکبیرۃ الاولی، صفحہ:78، حدیث:241۔

[2]... مسندِ فردوس، جلد:2، صفحہ:76، حدیث:2424۔

[3]... وسائلِ بخشش، صفحہ:102۔

الدَّهر وو یعنې ټول کال به ئې نفلي روژې نیولې، البته که څوک میلمه به راغے نو روژه به ئې نه نیوله او فرمائیل به ئې: د مسلمانانو وروڼو مُوافِقَت [یعني طبیعت لګیدل] هم د روژې نه کم نه دے (یعني د میلمه د میلمستیا د پاره د روژې پریښودلو سره به، د هغه سره خوراک کووم، د دې سره به د میلمه زړه خوشحاله شي او د میلمه زړه خوشحالول هم لوئے عبادت دے).[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! حضرت جنید بغدادي رحمۃ اللہ علیہ به نفلي روژې نیولې، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** میاشت ده، **شَعبَانُ الْمُعَظَّم** راتلونکې ده، دا ورځې لکه چې د نفلي روژو د سپرلي موسم دے، په دې میاشتو کښې په خصوصیت سره د نفلي روژو فضیلتونه دي:

## د یو جنتي نهر نوم: رَجَب دے

د جنّتي صحابي حضرت اَنَس بن مالِک رضی اللہ عنہ نه روایت دے، د اللّٰه پاک آخري نبي، مکي مدني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائیل: په جنّت کښې یو نهر دے، کوم ته چې رَجَب وئیلے شي، د دې نهر اوبه د پئیو نه زیاتې سپینې او د شهدو [یعني ګبین] نه زیاتې خوږې دي، څوک چې د رَجَب شریف یوه روژه اونیسي، اللّٰه پاک به په هغه باندې د دې نهر نه څکي.[2]

## د رجب روژه د ګناهونو کفاره ده

د سُلطانُ الْمُفَسِّرِین، حضرت عبد اللّٰه بن عبَّاس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائیل: د رَجَب



[1]… تذکرة الاولیاء، ذکر جنید بغدادی، نیمۂ دوم، صفحه:10۔
[2]… شُعَبُ الایمان، باب فِی الصِّیَام، جلد:3، صفحه:368، حدیث:3800۔

د وړومبۍ ورځې روژه د 3 کالو کفاره ده، د دويمې ورځې روژه د 2 کالو او د دريمې ورځې روژه د يو کال کفاره ده، بيا د هرې ورځې روژه د يوې مياشتې کفاره ده (يعنې د رَجَب شريف دا روژې د ورو ګناهونو د معافۍ ذريعه جوړيږي).[1]

## د شعبان د روژو فضيلتونه

**(1)**: حضرت اَنَس رضی اللہ عنہ فرمائي چې د دواړو جهانونو مالِک و مختار، مکي مدني سرکار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په بارګاه کښې عرض اوکړے شو چې د رَمَضان نه پس کومې روژې افضل دي؟ اوئې فرمائيل: د رمضان د تعظيم د پاره د شعبان، بيا عرض اوکړے شو، کومه صدقه افضل ده؟ اوئې فرمائيل: د رمضان په مياشت کښې صدقه کول.[2] **(2)** حضرت اُسامه بن زَيد رضی اللہ عنہ فرمائي: ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم زه تاسو د شعبان په روژو نيولو وينم چې تاسو صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په بَله يوه مياشت کښې هم داسې روژې نه نيسۍ. اوئې فرمائيل: د رَجَب او رمضان په مينځ کښې دا مياشت ده، خلق د دې نه غافِله دي. په دې کښې د خلقو اعمال د الله پاک په لور اوچتولے شي او زما دا خوښه ده چې زما عمل په دې حالت کښې اوچت کړے شي چې زما روژه وي.[3]



[1]… جامع صغير، صفحه:312311، حديث:5051۔
[2]… ترمذی، کتاب الزکاة، باب ما جاء فی فضل الصدقه، صفحه:189، حديث:663۔
[3]… نسائی، کتاب الصيام، باب صوم النبی… الخ، صفحه:387، حديث:2354۔

www.dawateislami.net

## صحت به هم ميلاو شي، اَجر به هم

اے عاشقانِ رَسُول! روژه ډيره نفع ورکوونکي نيکي ده، د روژې نيولو سره د آخِرت ثواب هم ميلاويږي، د دې سره سره د دُنيا فائدے هم حاصليږي. د مسلمانانو څلورم خليفه شيرِ خُدا حضرت مولٰى علي رضی اللہ عنہ فرمائي: ما د الله پاک د نبي، مُحَمَّدِ عربي صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم نه دا واوريدل چې بے شکه الله پاک د بني اسرائيلو په انبياؤ کښې يو نبي علیہ السّلام طرف ته وحي اوفرمائيله: اے نبي علیہ السّلام! خپل قوم ته اووايه چې بے شکه کوم بنده چې زما د رضا د پاره يوه ورځ روژه اونيسي، زه د هغه بدن له صحت ورکووم او د هغه اَجر زياتووم.[1]

کیا ہماری نماز ' کیا روزہ | بخش دینے کے سو بہانے ہیں

## روژه اونيسئ! صحت مند شئ...!

په مُعجَمِ اَوسط کښې د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ نه روايت دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم اوفرمائيل: صُوْمُوْا تَصِحُّوْا روژه اونيسئ! صحت مند به شئ وَ سَافِرُوْا تَسْتَغْنُوْا او سفر کوئ غني (يعنې مالداره) به شئ.[2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! روژه د صحت مند ژوند ضمانت دے، د روژې نيولو سره جسماني صحت هم ميلاويږي او رُوحاني صحت هم نصيب کيږي، روژه ظاهري اندامونه هم ښکلي کوي او د زړونو



[1]... شُعَبُ الايمان، بابٌ فِي الصِّيام، جلد:3، صفحه:412، حديث:3923۔

[2]... معجم اوسط، جلد:6، صفحه:147، حديث:8312۔

نه د ګناهونو خيرے وينځي او زمونږه زړه هم صفا او روښانه کوي. الله پاک دې مونږ ټولو له د ډيرو روژو نيولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

| | |
|---|---|
| عبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگادے دِل | رجب کا واسطہ دیتا ہوں، فرمادے کرم مولیٰ |
| نہیں درکار وہ خوشیاں، جو غفلت کا بنیں ساماں | عطا کر اپنی الفت، اپنے پیارے کا تُو غم مولیٰ[1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غيبت نه بچ اوسئ!

علّامه عبد الله بن اَسعَد يافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: يو ځل حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شونيزيه په جُمات کښې ناست وو، هغوئي هلته يو فقير اوليدلو د چا په مخ چې د عبادت او رياضت آثار ښکاره وو. هغه د خلقو نه سوال کولو. حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په زړه کښې سوچ اوکړو: که چرې ده څه کار کولے او د سوال د آفت نه بچ شوے وے نو بهتره به وه.

په دغه شپه په هغوئي باندې د شپې معمولات (يعني نوافل او وظائف وغيره) ګران شول، څه کار ته د هغوئي ډېر نه لګيدلې، هغوئي هم دغه شان بيدار وو، آخِر پرې خوب غلبه اوکړه او هغوئي اوده شول، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب کښې اوليدل چې هغه فقير راوستے شو او په يو دسترخوان باندې واچولے شو او اووئيلے شو: د ده غوښه اوخوره! چې تا د ده غيبت کړے دے.



[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 98 و 99۔

هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اووئیل: ما خو د ده غیبت نه دے کړے، آؤ! د ده په باره کښې مې په زړه کښې څه داسې سوچ کړے وو. جواب میلاو شو: اے جنیده! ته په هغه خلقو کښې نه ئې د چا چې مونږه دغه همره کوتاهي [بے خیالي] برداشت کړو، لاړ شه! د دې بنده نه معافي اوغواړه...!!

سحر هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د هغه فقیر د لټولو د پاره اووتلو، هغه د دریاب په غاړه وو، هغوئي هغه ته سلام اوکړو، هغه فقیر هم اوچتې مرتبے والا وو، هغه چې څنګه اولیدلو نو اوئې وئیل: اے جنیده! بیا به داسې کوې؟ هغوئي اووئیل: نه. په دې باندې فقیر اووئیل: لاړ شه! الله دې تا او ما معاف کړي.[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! د یو مسلمان په باره کښې په زړه کښې لږ شان د منفي خبرې سوچ کولو څومره اثر اوشو، یقیناً هغه فقیر به نیک انسان وو او د څه شرعي مجبورئ لاندې به ئې د خلقو نه سوال کولو، د حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په زړه کښې د هغه په باره کښې منفي خیال راغلے نو د هغې په وجه هغوئي د شپې د عِبادت نه محرومه کړے شول.

آه! زمونږه حال خو بالکل بے حاله دے، دلته خو صِرف په زړه کښې د سوچ کولو هډو خبره نه ده، خلق ښکاره غیبتونه کوي، چغلیانې کوي، په زړه کښې بدګماني ساتي او نور بے عزته کوي. یاد ساتئ! غیبت، چُغلي، بدګماني سخت حرام او دوزخ ته بوتلونکي کارونه دي، د دې نه بچ کیدل لازمي دي، د نورو په باره کښې په زړه کښې منفي خیال راوستلو نه هم بچ



[1]... روض الریاحین، الحکایة الثامنة والعشرون بعد المائة، صفحه:139 خلاصةً۔

کیدل بهتر دي، الله پاک په قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي.

| | |
|---|---|
| اِلَّا مَنۡ اَتَی اللّٰهَ بِقَلۡبٍ سَلِیۡمٍ ﴿۸۹﴾ (پاره:19، سورۂ شعراء: 89) | **[مفهوم]ترجَمۂ کنزُ الایمان:** خو هغه کوم چې د الله په حضور کښې حاضر شو د سلامت زړه سره. |

قَلبِ سلیم یعنې پاک صفا زړه. د الله پاک د آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې سوال اوکړے شو: قلبِ سلیم څه ته وئیلے شي؟ اوئې فرمائیل: هغه داسې صفا دے چې په هغې نه ګناه وي، نه بغاوت، نه کینه او نه حسد.[1]

## اَفضَل عَمَل

حضرت عبدُ الله بن عَمرو رَضِیَ اللهُ عَنۡه فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض اوکړے شو چې په خلقو کښې څوک افضل دے؟ اوئې فرمائیل: هر سلامت زړه والا، رښتینې ژبې والا. صحابۂ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم عرض اوکړو چې رښتینې ژبې والا خو مونږه پیژنو نو د سلامت زړه والا نه څه مراد دے؟ اوئې فرمائیل: هغه داسې صفا دے چې په کوم باندې نه ګناه وي، نه بغاوت، نه کینه او نه حسد.[2]

## د جنید بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه د شیطان سره ملاقات

حضرت جنید بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: یو ځل زما په زړه کښې د



[1] ...ابنِ ماجه، کتاب الزہد، باب الورع و التقوی، صفحه:684، حدیث:4216۔
[2] ...ابنِ ماجه، کتاب الزہد، باب الورع و التقوی، صفحه:684، حدیث:4216۔

www.dawateislami.net

ابلیس د لیدلو خواهش پیدا شو، هم دغسې یوه ورځ زه د جُمات په دروازه کښې ووم، ما لرې یو بوډا اولیدلو، د هغه د لیدلو سره ما په خپل زړه کښې ویره محسوس کړه، چې کله هغه رانزدې شو نو ما ترې پوښتنه اوکړه: تهٔ څوک ئې؟ اوئې وئیل: هم هغه یم د چا د لیدلو چې تا خواهش کړے وو. زه پوهه شوم چې دا ابلیس دے، ما هغه اوږتَلو او اومې وئیل: اے خبیثه! تهٔ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته د سجدې کولو نه کوم څیز منع کړې؟ ابلیس اووئیل: اے جنیده! تهٔ څه غواړې چې ما د اللّٰه پاک نه بغیر بَل چا ته سجده کړې وه. حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ابلیس دا خبره چې مې واوریدله نو زه حیران پاتې شوم، نزدې وه چې د هغه خبرې زما په زړه باندې اثر کړے وے، هغه وخت ماته الهام اوشو (یعنې زما په زړه کښې دا خبره واچولے شوه) چې اے جنیده! ده ته اووایه! كَذَبْتَ لَوْ كُنْتَ عَبْدًا مَامُوْرًا مَا خَرَجْتَ عَنْ اَمْرِه یعنې اے خبیثه! تهٔ دروغژن ئې، که چرې تهٔ واقعې د خپل مالِک (یعنې د اللّٰه کریم) بنده وے نو هیڅ کله به دې هم د هغه نافرماني نه کوله. شیطان ته د هغوئې د زړه د خبرې پته اولګیده او فوراً د هغه ځائے نه اوتښتیدو.[1]

## د واقعې نه میلاویدونکي 3 عبرتونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې عبرتناکې واقعې نه مونږ ته د زدکړې د پاره 3 خبرې حاصل شوې: (1) اولیائے کرام د اللّٰه پاک په بارګاه کښې اوچت مقام لري، اللّٰه پاک دوئې د شیطان خبیث د حملو نه محفوظه



[1]... كَشْفُ الْمَحْجُوب، صفحه:195 بتغیر قلیل۔

www.dawateislami.net

ساتي، په قرآنِ کريم کښې دي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ عِبَادِیْ لَیْسَ لَكَ عَلَیْهِمْ سُلْطٰنٌ (پاره:14، سورهٔ حجر:42) | **مفهوم ترجمهٔ کنزُ الایمان:** بے شکه زما په بندګانو باندې ستا هيڅ قابو نشته. |

سُبْحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه: چې اوليائے کرام د شيطاني حملو نه محفوظه دي، ځکه مونږ له پکار دي چې هميشه د اوليائے کرامو په سوري کښې اوسيږو، د دوئي سره محبت کوو، خومره چې رانه کيدے شي، د دوئي صحبت خپل کړو چې دوئي پخپله د شيطان نه محفوظه دي، د دوئي په برکت به مونږه هم د شيطاني چالونو نه محفوظه پاتې شو.

(2) دويمه خبره کومه چې د دې واقعې نه معلومه شوه، هغه دا چې د شيطان خبيث د ليدلو چرې هم خواهش نه دي کول پکار، دا بدبخته ډير خبيث دے، داسې جال راخوروي چې عِلم، عقل، هر څه بيکاره شي او انسان د ده په جال کښې اونښلي او تباه شي. اوګورئ! د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په شان اوچتې مرتبے والا عالِمِ دِين هم د هغه د خبرې اوريدلو سره حيرانه پاتې شو، هغوئي خو کامِل ولي وو، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د الهام په ذريعه د هغه خبيث د چال نه بچ کړے شو، ګنې زمونږ په شان [کمزوري انسانان] خو به د هغه په جال کښې اونښلي او تباه به شي، ځکه مونږ له پکار دي چې بس د الله پاک فرمانبرداره بندګان جوړ شو، د شيطان نه ځان بچ ساتو.

د حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهَا په خِدمت کښې يو ځل سُوال اوکړے شو: تاسو د شيطان په باره کښې څه فرمائې؟ اوئې فرمائيل: زه د رحمان سره محبت کووم، چې د هغه د ياد نه اوزګاره شم نو د شيطان په باره کښې به سوچ اوکړم

(نه د رحمان د یاد نه اوزګاریږم، نه د شیطان په باره کښې سوچ کووم).[1]

بس! د شیطان نه د بچ کیدو دا بهترینه طریقه ده، د هغه طرف ته هډو توجو مه کوئ. الله پاک دې مونږه د دې بد بخته لعین نه محفوظ کړي.

نفس و شیطان ہو گئے غالِب | ان کے چُنگل سے تُو چُھڑا یاربّ![2]

**(3)** دریم مدني ګُل کوم چې د دې واقعې نه مونږه زده کړو، هغه دا چې بنده هغه دے کوم چې د خپل کریم مالِک فرمانبرداري اوکړي، اوګورئ! شیطان بدبخته د خپل عقل نه کار واخستلو، رَبِّ کریم حکم اوکړو: آدم ته سجده اوکړه، ټولو فرښتو سجده اوکړه خو شیطان خبیث اووئیل: زه د آدم نه بهتر یم، زه د خدائے نه بغیر بَل چاته سر نه ښکته کووم، هغه د عقل نه کار واخستلو، د کریم مالِک حکم ئې اونه منلو نو نامُراده شو، دې د پاره مونږ له پکار دي چې مونږه د الله پاک او د هغه د خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکمونه په پټو سترګو اومنو، د عقل نه کار وانخلو. الله پاک دې زمونږه حقیقي بندګي نصیب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## بیان ئې څنګه شروع کړو...؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر لوئے عالِمِ دِین وو، خلقو به د هغوئي په خِدمت کښې عرض کولو اے جنیده! تاسو مونږ ته وعظ و نصیحت اوکړئ! هغوئي به فرمائیل: زما پیرِ کامِل



[1]... تذکرة الاولیاء، ذکر رابعة رحمة الله علیها، نمیمه اول، صفحه: 71۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه: 79۔

www.dawateislami.net

حضرت سِرِّي سقطي رحمۃ اللہ علیہ چې وي نو زه وعظ او نصیحت نشم کولے.
بیا یوه ورځ حضرت سِرّي سقطي رحمۃ اللہ علیہ پخپله هغوئي ته د وعظ و نصیحت
کولو (یعنې د درس و بیان) حکم اوفرمائیلو، په دې باندې هم هغوئي عرض
اوکړو: عالي جاه! چې تاسو ئې او زه وعظ کووم، ماته ښه نه ښکاري.

هغه شپه چې هغوئي اوده شو نو بخت ئې رابیدار شو، نُورانـي آقا، مکي
مدني مصطفٰـی صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په خوب کښې تشریف راوړو او اوئې
فرمائیل: جنیده! خلقو ته څه وایه! ستا د بیان په ذریعه به الله پاک یو عالَم
ته نجات ورکوي.

سحر چې رابیدار شو نو په زړه کښې ئې وسوسه راغله چې کیدے شي
زه د خپل پیر صاحب نه هم اوچتې مرتبې ته رسیدلے یم چې خوږ نبي، رسولِ
هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم پخپله د بیان کولو حکم ارشاد فرمائیلے دے، اوس
لا په دې خیال کښې وو چې د پیرِ کامِل حضرت سِرّي سقطي رحمۃ اللہ علیہ پیغام
راغے، هغوئي اوفرمائیل: جنیده! بغداد والؤ تا ته د وعظ د پاره اووئیل، تا
انکار اوکړو، مونږه اووئیل، تا خبره اونه منله، اوس خو د الله پاک خوږ نبي،
رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم حکم کړے دے، اوس حکم پوره کړه!

دا پیغام ئې چې واوریدو نو د زړه نه ئې وسوسه لرې شوه، هغوئي د خپل
پیر صاحب په خِدمت کښې عرض اوکړو: عالي جاه! تاسو ته څنګه معلومه
شوه چې ما په خوب کښې د رسولِ رحمت، شفیعِ اُمّت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم
زیارت کړے دے؟ اوئې فرمائیل: چې زما په خوب کښې د الله پاک دیدن
نصیب شو، ما ته الله پاک دا خبر ارشاد اوفرمائیلو.

دا ئې چې واوريدل نو حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ فوراً د خپلې غلطۍ نه توبه کړه او عرض ئې اوکړو: ما ته پته اولګيده چې ستاسو درجه په هر حال کښې زما د درجې نه اوچته ده، تاسو يقيناً زما د هر راز نه خبر ئې خو زه ستاسو د منصب نه خبر نه يم.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې نه معلومه شوه چې مونږ ته په پير باندې هيڅ قِسمه اعتراض نه دي کول پکار، د څه مقام او منصب په حاصليدلو باندې دا هم ياد ساتل پکار دي چې هر څه زما د پير عطا ده ځکه چې کوم مُريد څه نعمت د خپل پير عطا نه ګنړي اکثر د شيطان په لاس د هغه انجام بَد وي، هم دغسې

د حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ يو مُريد دا اوګنړل چې زه کامِل شوے يم او اوس ماته د پير په صحبت او خِدمت کښې د پاتې کيدو هيڅ حاجَت نشته بلکه زما د پاره ځانله اوسيدل بهتر دي. بس هغه ګوشه نشين شو [يعني يو طرف ته شو] او د حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې حاضريدل ئې پريښودل. يوه شپه هغه اوليدل چې څه خلقو يو اوښ راوستے دے او هغه ته وائي چې هغوئې د ده د بوتللو د پاره راغلي دي د پاره د دې چې دا شپه په جنّت کښې تيره کړي، هم دغسې هغه خلقو هغه په اوښ باندې کښينولو تر دې چې يو داسې ځائے ته اورسيدل کوم چې ډير ښکلے وو، د هغه ځائے هر يو څيز د حُسن نه ډَک وو، د مزيدارو خوراکونو سره سره د خوږو اوبو چينې هم رواني وې. هغوئې تر سحره پورې د هغه



[1] ... کَشْفُ الْمَحْجُوب، صفحہ: 193۔

www.dawateislami.net

ځائے نه خوندونه اخستل او کله چې سحر شو نو هغه په خپله حجره کښې
وو. دا سلسله تر ډېرو ورځو پورې هم دغه شان روانه وه چې هغه ته هره
شپه داسې ښکاريدله چې فرښتې هغه په سورلئ کښينوي او د جنّت سيل
پرې کوي او قِسما قِسم ميوې پرې خوري تر دې چې هغه د تڪبر او غرور
ښکار شو او دا دعویٰ ئې شروع کړه چې د هغه حالت هُغه کمال ته رسيدلے
دے چې د هغه شپې هم په جنّت کښې تيرېږي. خلقو د هغه په باره کښې
حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ ته اووئيل نو هغوئي رحمۃ اللہ علیہ چې د هغه
خوا له راغلے نو اوئې کتل چې هغه ډير په تڪبر کښې ناست دے. هغوئي
د هغه نه د حالت پوښتنه اوکړه نو هغه ډير په فخر د خپل اوچت مقام او د
جنّت د سيل ذِکر اوکړو، هم دغسې هغوئي رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائيل: چې نن
کله جنّت ته لاړ شې نو 3 ځله لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم اولوله. هغه
اووئيل: ډيره ښه ده، هم دغسې چې حسبِ معمول کله هغه جنّت ته لاړلو نو
په راياديدو ئې صِرف د تجربے په طور 3 ځله لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ
الْعَظِيْم اولوستل. نو د هغه بوتلونڪو ټولو خلقو چغې کړې او اوتښتيدل او
هغه څه ګوري چې جنّت د سترګو په رَپ کښې د هغه د سترګو نه پناه شو
او هغه په پليتئ او سخا ځائے باندې ناست دے او د هغه نه ګير چاپيره
مُردار هډوکي پراته دي. هُغه وخت هغه ته پته اولګيده چې دا د شيطان جال
وو او زه په دې جال کښې ګير ووم. فوراً ئې توبه کړه او د خپل پير و مُرشِد
سيد الطائفه حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ په خِدمت کښې حاضر شو.[1]



[1]... کَشْفُ الْمَحْجُوب، مترجم، صفحه:500۔

www.dawateislami.net

## د حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نصيحتونه

### دَروَيش ته د صبر تلقين

يو ځل حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو درويش د تپوس د پاره تشريف يوړلو، هُغه وخت هغه د بيمارئ په وجه ژړل، حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه ته نصيحت اوکړو او اوئې فرمائيل: د چا په درکړے شوي اَذِيَّت باندې ژاړې؟ او چا ته د دې شکايت کول غواړې؟ د هغوئي د حکمت نه ډکه دا خبره چې ئې واوريدله نو دَرويش چپ شو.[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے نصيحت دے...!! مونږ له هم په دې باندې عمل کول پکار دي، الله دې نه کړي، که چرې سخته، پريشاني، لاس تنګي بيماري راشي نو د ژړا کولو په ځائے لږ دا غور اوکړئ چې دا سخته، پريشاني وغيره د چا په حکم راغلې ده؟ يقيناً زمونږه ايمان دے: وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰی هر ښه او بد تقدير د الله پاک د طرف نه دے.

يعني هغه رَبِّ کريم، رَبِّ رحمان او رحيم کوم چې مونږ د اوبو د څاڅکي نه جوړ کړو، د مور په ګيډه کښې ئې بغير د غوښتلو نه رزق راکړو، لاسونه، ښپې، غوږونه، پوزه، ټول اندامونه ئې راله راکړل، په زرګونو نعمتونه ئې را له راکړل، د وړوکوالي نه واخله تر اوسه پورې پرله پسې رزق راکوي، دا مشکل، دا پريشاني د هغه رَبّ په حکم باندې راغلې ده، چې د هغه عطا ده نو ژړا او سلګۍ د څه خبرې



[1]... تذکرۃ الاولیاء، نیمۂ دوم، ذکر جنید بغدادی، صفحہ:12۔

www.dawateislami.net

جے سوہنا میرے دُکھ وِچ راضی | میں سُکھ نُوں چلھے پاواں

**وضاحت:** يعنې د الله كريم دغه حكم دے چې ما ته غم را اورسي نو زه د هغه په رضا باندې راضي يم، ما ته د خوشحالئ څه ضرورت دے.

بلكه حق خو دا دے چې څه د الله پاک د طرف نه دي، هغه خو خوشحالي خوشحالي ده، غم خو هډو دے نه.

## درد محسوس نه شو

د حضرت رابعه بصريه رحمۃ الله علیها په سر باندې خښته راپريوتله او وينه ترې بهيدله خو هغې رحمۃ الله علیها دې طرف ته هډو توجه اونكړه، خلقو ترې پوښتنه اوكړه: آيا تاسو ته د تكليف احساس نه كيږي؟ اوئې فرمائيل: د خښتې راغورزيدل د الله پاک په اراده اوشو، د هغه اراده زما په لور اوشوه، د دې خبرې تصوُّر هډو زه د درد نه خبر نكړم.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا حقيقت دے: د هر مرض ډيره اثر كوونكي دوا او د هرې سختئ بهترين حل هم دا دے چې بنده د الله پاک په رضا باندې راضي شي، چې كله بنده د الله پاک په رضا باندې راضي شي نو الله پاک د هغه نه راضي شي او د چا نه چې الله پاک راضي شي، په دُنيا او آخِرت كښې د هغه مزے شي. يو ځل د حضرت جنيد بغدادي رحمۃ الله علیه په سترګو كښې څه تكليف شو، يو كافِر طبيب د هغوئي د سترګو معائنه اوكړه او هدايت ئې اوكړو چې سترګې به د اوبو نه بچ ساتې.

چې سترګو ته اوبه لاړې نشي، دا به ښكه كيږي، چې اودس كوې نو



[1]... الكوكب الدرية، الطبقة الثانية، حرف الراء، رابعة العدويه، جلد: 1، صفحه: 270۔

ستر کو ته خو به اوبه ځي او د یو کافِر په وینا د اودس پرېښودو اجازت هم نشي کیدے، ځکه حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللہِ علیہ د کافِر طبیب په هدایت باندې هیڅ عمل اونکړو، اودس ئې اوکړو، د ماسخُتن لمُونځ ئې ادا کړو او اوده شو، سحر چې راپاځیدو نو ستر کې ئې بالکل ټیک شوې وې، هغه وخت غیبي آواز راغے: **اے جنیده! تا د عبادت د پاره د خپلو ستر کو پرواه اونکړه، ځکه مونږه ستا تکلیف لرې کړو.**

کله چې هغه کافِر طبیب ته پته اولګیده چې د هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ ستر کې بالکل ټیک شوې دي نو هغه په حیرانتیا سره پوښتنه اوکړه: په یوه شپه کښې ستر کې څنګه ټیک شوې؟ اوئې فرمائیل: د اودس کولو سره. په دې باندې کافِر طبیب اووئیل: په اَصل کښې طبیب تاسو ئې او زه مریض یم، اوس زما علاج اوکړئ او کلمه ئې اووئیله او مسلمان شو! [1]

دے شوقِ تلاوت دے ذَوقِ عبادت
میں پانچوں نَمازیں پڑھوں باجماعت
رہوں بَاوُضو میں سدا یا الٰہی!
ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی!

## د مال د مینې نه آزاد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت جنید بغدادي رحمۃُ اللہِ علیہ د دُنیا او د مال و دولت د مینې نه ډیر لرې او د عبادت و ریاضت ډیر شوق لرلو، یو ځل د هغوئي په خدمت کښې یو مالداره ګس حاضر شو، هغه د هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ په خدمت کښې 500 درهمه (یعنې د سپینو زرو سِکے) وړاندې کړې او عرض ئې اوکړو: حضورا! دا وړه شان نذرانه قبوله کړئ. حضرت



[1]... تذکرۃ الاولیاء، نیمۂ دوم، ذکر جنید بغدادی، صفحہ:12 13۔

جنید بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه مُسکے شو، بیا ئې اوفرمائیل: ستا سره د دې درهمو نه علاوه نور هم څه مال شته؟ هغه اووئیل: ستاسو په دُعا سره او د اللّٰه پاک په فضل او کرم سره ډیر څه شته. اوئې فرمائیل: آیا ستا دا خواهش دے چې ستا مال او دولت نور زیات شي؟ عرض ئې اوکړو: حضور! دا خواهش خو زما هر وخت وي او د دې خواهش د پاره په کاروبار کښې ډیر محنت او مشقت کووم، هغوئي اوفرمائیل: نو دا درهمونه هم تهٔ واخله چې زما نه زیات تهٔ محتاج ئې. زما سره اګرچه مال او دولت نشته خو د اللّٰه پاک په فضل سره مې د دې خواهش هم نشته.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** په دې واقعه کښې زمونږ د پاره د قناعت دَرس دے، اللّٰه پاک چې څه راکړي دي، څومره ئې راکړي دي، انسان دې په هغې خوشحاله شي، د ډیرو خواهش دې نه کوي، د ډیرو لالچ لرلو والا که هر څومره مالداره وي، په حقیقت کښې هغه غریب او فقیر دے. په اَصل کښې مالداره هغه دے کوم چې د اللّٰه پاک په رضا باندې راضي وي.

## د غلامانو غلام

په **کَشْفُ الْمَحْجُوب** شریف کښې دي: یو بادشاه یو درویش ته اووئیل: اوغواړه څه غواړې؟ اوئې فرمائیل: زه د خپلو غلامانو د غلام نه هیڅ نه غواړم، بادشاه ډیر حیرانه شو، اوئې وئیل: زه ستاسو د غلامانو غلام څنګه یم؟ اوئې فرمائیل: حِرص او خواهش زما غلامان دي او تهٔ د دې غلام ئې،

323

[1]... تذکرۃ الاولیاء، نیمۂ دوم، ذکر جنید بغدادی، صفحہ:14۔

ځکه ته زما د غلامانو غلام شوے.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! ځومره عجيبه اندازونه دي. معلومه شوه: چې حِرص انسان خپل غلام جوړوي، د دې د پاره د غلامۍ نه هميشه آزاد اوسيدل پکار دي. اللّٰه پاک چې څه راکړي دي، ځومره ئې راکړي دي، په دې باندې خوشحاله اوسئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ژوند به مو د سکون نه ډَک وي.

## اللّٰه دې ستا غريبي ډيره کړي!

يو ځل يو تنګدسته او غريب انسان د حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې عرض اوکړو: حُضُور! ډير غريب يم، اوږے يم، زما د پاره دُعا اوکړئ! هغوئي اوفرمائيل: اللّٰه پاک دې ستا لوږه زياته کړي! ځکه چې دا هغه نعمت دے، چې د اللّٰه پاک نيک بندګان د دې خواهش کوي، کله چې هغوئي ته ميلاو شي نو شُکر ادا کوي.[2]

تاج وتخت وحکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے
اپنی رِضا کا دیدے مُژدہ | یا اللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د تهجد لمُونځ ډيره فائده راکړه

حضرت جنيد بغدادي رحمۃ اللہ علیہ د وِصال نه پس چا په خوب کښې اوليدلو نو پوښتنه ئې ترې اوکړه: اے ابو القاسِم! (د وفات نه پس ستاسو سره څه معامله اوشوه؟) څه اوفرمائې. اوئي فرمائيل: علمي بحثونه او د علمي

323

[1]... کَشْفُ الْمَحْجُوب، صفحه:41 بتغير قليل۔

[2]... تذکرة الاولياء، نيمهٔ دوم، ذکر جنيد بغدادى، صفحه:16۔

نکاتو باریکیانې مې هیڅ پکار رانغلې خو د شپې په تنهائې کښې ادا کړې شوې لمُونځ (تهجد) ډیره فائده راکړه.[1]

الله پاک دې مونږ له هم د تهجدو لمُونځ کولو توفیق راکړي! د شپې د زر اوده کیدلو عادت جوړ کړئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د تهجدو د پاره پاڅیدل به درته آسان شي. راځئ! د ترغیب د پاره د تهجدو په فضائلو باندې 2 احادیث مبارکه اورو:

## د تهجد په فضائلو باندې 2 فرامینِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**(1)** د الله پاک خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: په شپه کښې قیام په خپل ځان باندې لازم کړئ چې دا د تیر شوؤ نیکانو خلقو طریقه ده او ستاسو رَبّ طرف ته د نزدې کیدو ذریعه او د ګناهونو ختمولو والا او د ګناه نه منع کولو والا او د بدن نه بیمارئ لرې کوي.[2]

**(2)** رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د قیامت په ورځ به خلق په یو میدان کښې جمع کړې شي، هغه وخت به یو آواز کوونکے آواز اوکړي، چرته دي هغه د چا اړخونه چې به د بسترو نه لرې کیدل؟ هغه خلق به اودریږي او لږ به وي هغوئي به جنّت ته بغیر د حِساب نه داخل شي بیا به د نورو خلقو د پاره د حِساب حکم کیږي.[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1 ... بیٹے کو نصیحت، صفحہ:10۔

2 ... ترمذی، کتاب الدعوات، باب فی دعاء النبی، صفحہ:811، حدیث:3549۔

3 ... شُعَبُ الایمان، جلد:3، صفحہ:169، حدیث:3244۔

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: هفته واره اجتماع

اے عاشقانِ رَسُول! نیک لمُونځ گزاره جوړیدلو، خپل ژوند بامقصده جوړولو، د اللّٰه پاک د نعمت موندلو، د نیکو کولو او د ایمان د حفاظت ذِهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي دیني ماحول لمَن اونیسئ او په 12 دیني کارونو کښې هم ښه پوره حِصَّه اخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دین او دنیا بے شمیره برکتونه نصیب شي. په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **هفته واره اجتماع** هم ده. راځئ په هفته واره اجتماع کښې په پابندئ سره د شرکت کولو ذهِن جوړولو د پاره یو مدني سپرلے اورو:

## د گناهونو ډک ژوند کښې ئې مدني انقلاب راغے

د کراچئ (پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے: د دعوتِ اسلامي دیني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د گناهونو نه ډک ژوند تیرولو، د دُنیا په خوندونو کښې مصروف اوسیدل زما معمول وو، د خرابو دوستانو صحبت زه خراب کړے ووم، د دوستانو سره به په شریکه ټوله شپه د گناهونو ډکه سلسله روانه وه، یو ځل یو اسلامي ورور ماته د ماښام په وخت د لمُونځ کولو دعوت راکړو، پته نه لګي چې د هغه په دعوت کښې څه اثر وو چې زه د هغوئي سره د جُمات په لور روان شوم، د ماښام لمُونځ مې اوکړو، د لمُونځ نه پس یو اسلامي ورور د **فیضانِ سُنَّت** نه درس ورکړو، د درس نه فوراً پس اسلامي ورونړو په هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو تیاري شروع کړه. یو اسلامي ورور ماله هم په **هفته**

واره اجتماع کښې د شرکت کولو ترغيب راکړو، د هغه انداز دومره ښکلے وو چې زه فوراً په اجتماع کښې د شرکت کولو د پاره تيار شوم، بيا ډير زر د اسلامي ورونړو سره په شريکه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه ته اورسيدم، هلته مې د سُنَّتو نه ډک بيان واوريدو، په ذِکرُ الله کښې مصروفه شوم، بيا د ژړا نه ډکه دُعا اوکړے شوه. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! د دعوتِ اسلامي د هفته وارې اجتماع او د عاشقانِ رسول د صحبت په ما باندې دومره اَثر اوشو چې ما د دُعا په وخت په ژړا ژړا د خپلو ګناهونو نه توبه کړه او بيا د پاره مې په نيکو کښې د ژوند تيرولو پوخ نيت اوکړو، په ما باندې خوندونه راوريدل، د اجتماع نه بيرته راتلو نه پس ما د لمونځونو پابندي شروع کړه او د نيکو نه په ډک ژوند تيرولو کښې مصروف شوم.

اسی ماحول نے ادنٰی کو اعلٰی کر دیا دیکھو! | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا دیکھو!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د عِلمِ دين فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، چې نوم ئې: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت) دے.

په دې ايپلي کيشن کښې به تاسو ته ميلاويږي: ډير مذهبي او معاشرتي سوالونو ليکلے شوي فتاوی ❀ د عقائدو په باره کښې احکام ❀ د قرآن او حديث په باره کښې احکام ❀ د اوداسه، غسل او د ناپاکۍ احکام ❀ د

لمُونځ په باره کښې مسائل ❁ د مړي مُتَعَلِّق مسئلے ❁ د دعوتِ اسلامي د مفتيانِ کرامو اهم تربيتي او معلوماتي ويډيوکلپس او بيانونه ❁ په معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف آرټيکلز او کتابونه ❁ د مفتيان صاحبانو په مختلفو علمي، تربيتي او شرعي معلوماتو مشتمل سلسلے ❁ تجارت کورس، د فرض علومو کورس ❁ او ډير څه. دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اوبو څښلو 13 سُنَّتونه او آداب

**فرمانِ آخري نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د اُوښ په شان صرف په يو ګوټ [يعني په يوه ساه] اوبه مه څښئ بلکه دوه يا درے ځله (ساه اخلئ او بيا ئې)



[1]...مشکوٰۃ، کتابُ الْاِیمان، باب: الْاِعْتِصَام، جلد: 1، صفحه: 55، حديث: 175۔

www.dawateislami.net

څښېږ او چه څښل شروع کوئ نو مخکښې ترې بِسۡمِ الله اولولئ او چه کله دڅښلو نه فارغه شئ نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه اووائې.“[1]

اے عاشقانِ رسول: اوبه وي يا بل يو د څښلو څيز وي ❁ د څښلو نه مخکښې بِسمِ الله اولولئ ❁ په چوپلو چوپلو واړه واړه ګوټونه کوئ، په غټوګوټونو کښې د څښلو سره د ځِيګر بيماري پيدا کيږي ❁ اوبه په درې ساه ګانو کښې په ناسته او ښي لاس څښېږ ❁ که په لوټه [کوزه] وغيره مو اودس کړے وي نو د هغې پاتې شوي اوبه څښل د ۷۰ مرضونو شِفا ده ځکه چه دا د آبِ زم زم شريف سره مشابهت لري، د دې دوو (يعني د اودس نه پاتې شوو اوبو او د آبِ زم زم شريف) نه علاوه نورې اوبه په ولاړه ولاړه څښل مکروه دي. دا دوه (قِسمه) اوبه مخ په قبله په ولاړه ولاړه څښېږ ❁ د څښلو نه مخکښې اوګورئ چه د څښلو په څيز کښې څه نقصان ورکوونکې څيز وغيره خو نشته.[2] ❁ د څښلو نه پس اَلۡحَمۡدُلِلّٰه اولوَلئ ❁ حُجَّةُ الاسلام حضرت سيِّدنا امام محمّد غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيه فرمائي: بِسۡمِ الله دِ اولولي او څښل دِ شروع کړي د ووړومبئ ساه په آخره کښې دِ اَلۡحَمۡدُلِلّٰه د دويمې ساه نه پس دِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡن او د دريمې ساه په آخره کښې دِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ اولولي. دا ښه کار دے، که مو اُونکړو نو څه باك نشته او په شروع کښې بِسۡمِ الله اولولئ او په آخره کښې اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ اولولئ

323

[1]... ترمِذِی، الحديث: ،ج، ص

[2]... اِتحَافُ السَّادَة لِلزبيدى ج ص

❁ په **ګِلاس** [وغيره] كښې پاتې شوي د مسلمان صفا سُتره جُوټه اوبه چه د استعمال قابِلې وي فُضُول توئيول نه دي پكار. ❁ منقول دي: **سُؤْرُ الْمُؤْمِنِ شِفَاءٌ** يعنې د مسلمان په جوټه كښې شِفا ده. ❁ د څښلو نه لږ ساعت پس چه خالي ګلاس اوګورئ نو د هغې په ويخ كښې به د ديوالونو نه يو څو څاڅكـي اوبه راجمع شوي وي هغه هم اوڅښئ.[1]

مختلف سُنَّتونه او آداب زده كولو د پاره د مكتبةُ المَدينه **بهارِ شريعت جلد3 نه حِصَّه 16** او د شيخ طريقَت، اَميرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ 100 صفحو كتاب **550 سُنَّتيں اور آداب** واخلئ او اولولئ ئې. د سنَّتونو زده كولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره ډك سفر هم دے. الله پاك دِ مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اسلامى هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم



[1]... 550 سنتيں اور آداب، صفحه:16۔

به هغه قَبُر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود



1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2 . . . القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

323

1 ...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2 ...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

3 ...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فربنتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net